


**بسم الله الرحمن الرحيم**

**خپل ځان او نورو ته زيان رسول ناروا دي**

**(ژباړه)**

له حضرت ابو خدري رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ»**

(حسن حديث رواه ابن ماجه، دارقطنی وغيرهما)

*ژباړه: خپل ځان او نورو ته زيان رسول ناروا دي.*

**د حديث شرحه:**

دا قاعده (په اسلام کې خپل ځان او نورو ته زيان رسول جواز نه لري) د اسلامي احکامو په کاملو اخلاقو کې بنسټيزه او لويه قاعده ګڼل کيږي. په دې قاعده عمل د انسان د خوشبختی لامل ګرځي. يا په بل عبارت، داسې قانون دی چې بايد د طلا په اوبو وليکل شي. خو اوس بيخي ورک دی، حتا ډېری مسلمانانو چې کله د پانګوالی نظام له اسلام سره مبارزه شوه او زموږ ټولنې يې له منځه يووړې، دغه قانون ته هېڅ پام ونه کړ. وروسته داسې حالت راغی چې يو کس د بل ورور په هېڅ ډول ښکنځلو او زيان رسولو صرفه ونه کړه. کله يې ښکنځې او رټې، کله يې وهي ان وژني يې. مثلاً، تاسو انټرنټ، فېسبوک او نور ارتباطي وسايل وګورئ چې په څومره کچه ښکنځل او بدې خبرې پکې دي، څومره ناوړه کليمې پکې کارول کېږي، چې حتا د انسان نفس ترې شرميږي او ګوتې هم نه غواړي داسې څه وليکي.

**اې مسلمانانو!** څوک چې له اسلام سره جنګیږي په حقیقت کې له دغه قاعدې او فکر سره په جګړه کې دي. غواړي خلک په ستونزو کې وي، د پانګوالۍ نظام په خپل حال پاتې شي او دی په عیش او عشرت کې ژوند وکړي. دغه راز غواړي تیاره پر رڼا بریالۍ او باطل پر حق برلاسې شي. غواړي د مسلمانانو حکومتونه زیان رسوونکي (ناعادل او ظالم) پاتې شي او د خلافت –چې د عدل او انصاف نظام دی- له راګرځېدو مخنیوی وکړي.

ژباړن: حبیب الله